Preview (1 / 10) - ketabton.com

# د احساساتو نړۍ

لیکوال

قاري مولوي عبدالمنان حنظله وفا صاحب

دا کتاب ولولئ  خپل احساسات وپیژني

او ژوند مو بدل کړي



Preview (2 / 10) - ketabton.com

د کتاب پېژندنه او د چاپ حقوق

د کتاب نوم، د احساساتو نړۍ

لیکوال، قاري مولوي عبدالمنان حنظله وفا صاحب

د مخونو شمیر «۸۰» مخه

خپریدو بڼه ډیجیټل (E-book) خپروونکی.

کتابتون (KETABTON) فلټف ارم

قانوني خبرتیا:

د دغه کتاب ټول مادي او معنوي حقوق یوازې د هېواد د معزز لیکوال (قاري مولوي عبدالمنان حنظله وفا صاحب) په نوم خوندي دي. هېڅ حقیقي یا حکمي شخص حق نلري چې دا کتاب د لیکوال د رسمي او خطي اجازې پرته په مادي یا ډیجیټل بڼه بیا چاپ، وپلوري او یا یې په وړیا توګه په انټرنیټ، ټیلیګرام یا نورو ټولنیزو رسنیو کې خپور کړي. له سرغړونکو سره به قانوني چلند کیږي.

Preview (3 / 10) - ketabton.com

# د احساسا تو نړۍ

ليکوال، قاري مولوي عبدالمنان حنظله وفا صاحب

Preview (4 / 10) - ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم

Preview (5 / 10) - ketabton.com

# سریزه

انسان د احساساتو یو ژوندی انځور دی. د هغه زړه د مینې، خوښی، غم، هیلو، اندېښنو او بېلابېلو عاطفو کور دی. همدا احساسات دي چې زموږ فکرونه رنګینوي، زموږ کړنې رهبري کوي او زموږ د ژوند کیسه جوړوي.

په دې نړۍ کې هر انسان د خپلو احساساتو له کړکۍ ژوند ته ګوري. کله د خوښۍ په ګلونو کې موسکی وي، کله د غم په تیارو کې د صبر څراغ بلوي، او کله د هیلو په وزرونو د بریا تر اسمانه رسېږي. احساسات د انسان د روح ژبه ده؛ هغه ژبه چې بې له الفاظو هم د زړونو ترمنځ پیغامونه رسوي.

دا کتاب د انساني احساساتو د همدې پراخې نړۍ یوه لنډه هنداره ده. دلته به لوستونکی د زړه له رازونو، د عاطفې له رنګونو او د ژوند له هغو لطیفو حقیقتونو سره اشنا شي چې د انسان شخصیت ته ښکلا او ژورتیا وربخښي.

هیله ده چې د دې کتاب پاڼې د لوستونکو زړونو ته لار ومومي، د فکر نوې دروازې پرانیزي او د احساساتو د سم درک او مثبتې روزنې په برخه کې ګټورې تمامې شي.

په درنښت

مولانا عبدالمنان حنظله وفا صاحب

Preview (6 / 10) - ketabton.com



# ژوند!

ژوند کې هره ستونزه یوازې یوه حل لاره لري!
له الله سره خبرې وکړه
له الله څخه یې وغواړه
الله ته یې وسپاره
پر الله توکل وکړه
الله له اوربدو نه ستړی کېږي،
خو که ته ستړی نه شې

## د ژوند مهم درس!

اړتیا نشته چې د هر چا خوښ شو، بس همدومره چې د خدای ﷻ او خپل وجدان په وړاندې شرمنده نه یو، کافي ده.

# دا دري خبري در سره واخلي

1. خپل ژوند د نورو په خبرو او مشورو ځان ته مه زندان کوئ.
خپلې لارې ته ادامه ورکړئ او د نورو له نظرونو څخه مه وېرېږئ.

2. که هر څومره قیمتي څیز ووسئ، یو وخت به بې ارزښته شي، نو هوښیار اوسئ؛ هر څوک تاسو د خپل ضرورت لپاره کاروي.
د ځان ارزښت وپېژنئ او د نورو د ګټو لپاره ځان مه قرباني کوئ.

3. که غواړئ په ژوند کې بریالي شئ او خپلو هدفونو ته ورسیږئ، نو د خپل ذهن څخه دا یوه خبره لرې کړئ: "خلک به څه وایي؟"
د خلکو له قضاوت څخه مه وېرېږئ او په خپلو خوبونو پسې لاړ شئ.

Preview (7 / 10) - ketabton.com


## دزړه سکون!

کـه غواړې چـې همیشه سکون ولرې نو لـمونځ او د قـران کریم تلاوت مه پرېږده

## فکر!

له خبرو کولو مخکې دوه ځله فکر وکړه، ځکه چې خبرې د څپېړې په پرتله ډېرې دردونکې وي.

## څنګه باشعوره واوسو؟

۱- د خوړو پر مهال په لوړ غږ خواړه مه ژوئ.
۲- د خلکو د عاید او تنخوا په اړه پوښتنه مه کوئ.
۳- د نورو د تېر وخت زخمونه مه راژوندي کوئ.
۴- شخصي او ډېر خصوصي پوښتنې مه کوئ.
۵- د چا د ظاهر له مخې قضاوت مه کوئ.
٦- د چا په لباس او سټایل کې عیب مه لټوئ.
۷- خپل ماشومان په مجلسونو کې کنټرول کړئ.
۸- د بل چا د خبرو په منځ کې مداخله مه کوئ.
۹- کله چې څوک نصیحت کوي، په غور یې واورئ.
۱۰- د چا سره د خبرو پر مهال موبایل ته مه ګورئ.
۱۱- که مو تېروتنه وکړه، بښنه وغواړئ.
۱۲- د نورو مهرباني عادي مه ګڼئ، بلکې منندوی اوسئ.
۱۳- کله چې کوم مجلس ته داخلېږئ، سلام واچوئ.
۱۴- باشعوره کېدل غرور نه دی، بلکې د ښه شخصیت نښه ده.
۱۵- ځینې وختونه بسنه کوي چې د نورو نظر یوازې واورو.

Preview (8 / 10) - ketabton.com



# اصلاح !

**یا الله !**

**ما اصلاح کړه، ما ته لارښوونه وکړه او زما ساتنه وکړه**

# نصیب !

**تل د ښکلي نصیب لپاره دعا وکړئ، نه د بشپړ نصیب لپاره. سوله د بشپړتیا څخه ډیره مهمه ده.**

# تمرکز

**په هغو خلکو تمرکز مه کوه چې ستا په اړه دروغ وایي؛ مهم هغوی دي، چې په دې دروغو باور کوي.**

# وروره !

اسلام یوازې نوم نه دی، نظام دی.

ایمان یوازې خبره نه ده، باور او ثبات دی.که لمونځ کوې خو اخلاق نه لرې، نیمګړی یې.که روژه نیسې خو ژبه نه ساتې، تاوان دې وکړ.که زکات ورکوې خو تکبر لرې، ثواب دې سوځي.عبادت یوازې سجده نه ده،عبادت دا هم دی چې:

دروغ پرېږدې

ظلم ونه کړې

د خلکو حق ونه خورې

نیت دې پاک وساتې

اسلام ستا ظاهر سموي،

ایمان ستا باطن روښانوي.

کله چې ظاهر او باطن یو شي،

هلته حقیقي مسلمان پیدا کیږي.

ځان اصلاح کړه،الله ته نږدې کېدل به درته اسانه شي.

تاسې یې نوټ کـــړئ!

Preview (9 / 10) - ketabton.com


## نصیحت!

- خبرې کوه اخلاق مه هیروه
- فیصله کوه انصاف مه هیروه
- علم کوه عمل مه هیروه
- مینه کوه وفا مه هیروه
- دعا کوه یاران مه هیروه

## نبي کریم ﷺ فرمایلي دي:

څوک چې د یو بل مسلمان پټ، عیبونه پټ کړي، د الله به یې، د قیامت په ورځ عـزت وکړي.

## بخت!

نړۍ له داسې انجونو هم ډکه ده
چې مخ او زړه یې د سپوږمۍ په شير وي
خو بخت یې د وینځې نه هم بتر ويي

## ښکلی ژوند!

ژوند هغه وخت ښکلی شي، کله چې زړه مو له کینې خالي او له مینې ډک وي.

ښه اخلاق دانسان تر ټولو لویه شتمني ده؛ څوک چې اخلاق لري، هر ځای عزت لري.

هغو زړونو ته خوشحالي راځي چې د نورو د خوشحالولو نیت لري. *

مهرباني یو کوچنی کار دی، خو دانسان په زړه کې لوی ځای جوړوي

تل هیله لرئ؛ ځکه له امید سره ژوند اسانه او ښکلی کېږي.

ربښتیني خلک لږ وي، خو ارزښت یې د زر کسانو برابر وي.

هغه څوک بختور دی چې زړه یې پاک، نیت یې ښه او خبرې یې نرمې وي.

Preview (10 / 10) - ketabton.com


## لمونځ مه پرېږدی!

ځکه چې دژوند ټول برکتونه
اودزړهٔ سکون په کښې نغښتی دی!!

## گناهونه!

هغه گناهونه چې سبا دوزخ په اور وینځل کیږی،
راځئ چې نن يې داودس په اوبو ومینځو.

## صبر ولره!

که په دي دنیا کي غم او تکلیف شته
نو صبر ولره الله هم شته دي

## تیر وخت هیر کړه!

سیند هېڅکله بېرته نه راگرځي د سیند په څیر اوسه
مخکي ځه
تیر وخت هیر کړه
او مثبت فکر ولره

## فراق!

هغه خلک چی ډیر خاندی یوه ورځ ور شه.
او غیږه ورکړه بیا گوره څومره درته ژاړی

## ایا پوهیږی چی انسان څه ته ویل کیږی!

په زړه کی انسانیت
په سترگو کی احترام
په خبرو کی نرمی
په اخلاقو کی شفقت
په فکر کی لوی ظرفیت ولری

PREVIEW

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

**Buy this book - ketabton.com**

https://ketabton.com/books/jkGpC8Br9JL

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.